رسنیزه اعلامیه

# د بشري حقونو د نړیوالي ورځي او د رواداری د لومړي کلیزي په پار

10/12/2023

د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې د تصویب د ۷۵مي کلیزي د رارسیدو سره همهاله، رواداري په افغانستان کي د بشري حقونو د وضعیت د خرابیدو له امله ژوره اندیښنه ښرگندوي. د تېرو دوو کلنو په لړ کي چي طالبان پر افغانستان واکمن شوي دي، موږ د هیوادوالو د ژوند پر بېلابېلو اړخونو په پراخه کچه د محدودیتونو وضع کولو او ورځ تربلي د هغوي د انساني آزادیو او حقونو د نقض د زیاتوالي شاهدان ؤ. په داسي ډول چي، ښځې او انجوني په افغانستان کي د واکمني ډلي د سیستماتیک او سازمان شوي توپېري چلندونو په پایله کي د زده کړو حق، کار حق او نورو بشري آزادیو څخه محرومي شوي دي، هغه مورد چي د بشري حقونو د ټولو نړیوالو سندونو سره په ټکر کي دي او د جنسیتي آپارتاید له مصداق څخه گڼل کیږي.

همدارنگه، په دغه موده کي، طالبانو ډیری پخواني ملي قوانین د اساسي قانون په گډون چي د بشري حقونو تضمین کوونکي وه لغوه کړه، او پر ځای یې نه یوازي دا چي د هیوادوالو د بنسټیزو حقونو او آزادیو د ملاتړ لپاره کوم کار ونکړ، بلکه د خورا سختو محدودیتونو په لگولو او د هر ډول ځواب ویلو څخه په مصؤنیت، د بشري حقونو د لا زیات نقض مرتکب شوه. د تېرو دوو کلونو په ترڅ کي، رواداري د مدني او سیاسي حقونو د وضعیت په ځانگړي توگه د حقوقي نظم پاشلتیا، د عادلانه محاکمي د اصولو نقض او عدالت ته د قربانیانو نه لاسرسی، غیر قانوني او خپلسرې نیوني، شکنجه او ناوړه چلند او د تېر حکومت د کارکوونکو هدفي وژنو په اړه بېلابېل راپورونه خپاره کړي دي، چي د بشري حقونو د ناوړه وضعیت ښکارندوېي کوي. همدارنگه، طالبانو د مدني اعتراضاتو او هڅو په ځپلو او د معترضانو د غیرقانوني نیولو له لاري د هر ډول سولییز مخالفت مخه نیولې ده.

په هر صورت، موږ باور لرو او تېرو دوه کلونو کي تجربې هم وښودله چي د بشري حقونو د ارزښتونو د رعایت پرته، د انساني ټولنې د یوي برخي په توگه د ښځو د فعاله گډون څخه انکار کول، عدالت ته د قربانیانو نه لاسرسي او د ټولني څخه د توپیري چلند او بې عدالتۍ لیري کولو څخه بغیر به په افغانستان کي سوله د لاسرسی څخه لیري وي. ځکه چي، د افرادو انساني کرامت او د حقونو برابری د یوي تلپاتي سولییزي ټولني بنسټ جوړوي او تر څو چي په افغانستان کي د ټولو ډلو انساني حقونه په ځانگړي توگه د ښځو آزادي او بشري کرامت تامین نشي موږ به هیڅکله سولي، هوسایني، پراختیا او دوامداره ثبات ته ونه رسیږو. له همدي کبله، رواداري د واکمني ډلي څخه په تیگار سره غواړي چي د بشري حقونو په نړیواله اعلامیه او د بشري حقونو په نورو نړیوالو اسنادو کي راغلو حقونو ته درنښت وکړئ او له دي لاري په خپلو قانوني مکلفیتونو باندي عمل وکړي او تر دي زیات د بشري حقونو د نقض اړوند خپلي کړني لا نوري درنې نکړي.

د دي سره همهاله، نن ورځ د رواداری د تاسیس د لومړی کلیزي سره برابره ده. د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر میاشتي په لسمه نیټه رواداري د بشري حقونو د یو خپلواک بنسټ په توگه د «برابر او سولییز افغانستان» په شعار او د بشري حقونو د وضعیت څخه د څارني او د بشري حقونو د کلتور د ودې او بنسټیز کولو په موخه رسماً کار پیل کړ. په دغه

موده کي موږ معلوماتو ته د لاسرسي په وړاندي د پرتو ټولو امنيتي ستونزو، سختيو او خنډونو سره سره وتوانيدلو چي په دوامداره او اغيزمنه توگه د بشري حقونو د سرغړوني پيښي مستندي کړو او خپلي موندني د افغانستان د خلکو، نړيوالي ټولني، د بشري حقونو د نړيوالو بنسټونو او رسنيو سره شريکي کړو. د دي برسيره، رواداري د تېر يو کال په ترڅ کي د ملگرو ملتونو سازمان، د جزا نړيوالي محکمي او د عدالت لپاره نورو نړيوالو ميکانيزمونو سره خپلې اغيزمني عدالتي غوښتني ته په افغانستان کي د معافيت د کلتور د پاي ته رسيدلو په موخه دوام ورکړي ده. موږ د بشري حقونو د فعالينو، هنرمندانو، څيړونکو او پوهانو، معترضانو او نورو فعالو او اغيزمنو ډلو سره په سلا مشوره، همږغی او نژدي همکاريو سره د سولي او برابرۍ د کلتور د پراختيا لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکوو. اوس د رواداري د لومړنۍ کليزي په درشل کي، موږ په خپلي پياوړي ارادی او ژمنتيا سره د بشري حقونو د پراختيا، د بي عدالتۍ او توپيرونو سره د مبارزې او په افغانستان کي د ځواب ورکووني او عدالت باندي ټينگار کوو او په دغه لاره کي، د افغانستان د بشري حقونو او مدني ټولني سره په همږغۍ، د ټولو قانوني وړتياؤ، امکاناتو او ابزارو څخه گټه پورته کوو.